## مطبوعاتي اعلامیه

# په افغانستان کې د بشري ناورین حلاره د OIC ګوډاګۍ شورا له لوري د محدودو مرستو په ژمنه کې نه، بلکې د خلافت تر چتر لاندې د افغانستان او پاکستان په یووالي کې ده

اوسمهال د افغانستان مجاهد مسلمانان له یو سخت بشري ناورین سره لاس او ګرېوان دي، چې له ۴۰میلیونو کسانو څخه یې، نږدې نیمايي له لوږې سره مخ دي. سربېره پر دې د پاکستان واکمنان له دوی سره د مرستې پر ځای، له دې ناورین څخه ناوړه ګټه اخلي او غواړي د طالبانو رژیم اړ کړي چې یو ملي، ډیموکراتیک او په بشپړ غربي سبک یو لېبرال دولت ته غاړه کېږدي. دا ټول د اسلامي کنفرانس سازمان د بهرنیو چارو د وزیرانو د فوق العاده غونډې له لارې مطرح شول، چې د امریکا، روسیې او چین استازو او همدا راز د افغانستان د بهرنیو چارو وزرات سرپرست وزیر  او د جرمني، کاناډا، استرلیا او جاپان په ګډون ترسره شوه. د پاکستان د بهرنیو چارو وزیر شاه محمود قریشي په یوه وینا کې وویل: «پاکستان له طالبانو غواړي چې د افغانانو د بشري حقونو په اړه د نړیوالې ټولنې اندېښنې واوري.» په داسې حال کې چې دوی فکر کوي، ګواکي نړیواله ټولنه له بشري حقونو څخه سرغړونه نه کوي، خو دا د لمر په شان روښانه ده، چې په ناحقه یې افغانستان اشغال کړ، په لسګونو زره کسان یې شهیدان او په سلګونو زره نور یې ټپیان کړل. له دې ټولو سره سره د همدې نړیوالې ټولنې تش په نامه مشر، متحده ایالات وو، چې نږدې لس میلیارده ډالر یې په رڼا ورځ غلا کړل.

د اسلامي سازمان کنفرانس، د خلافت د تاسیس له لارې د مسلمانانو د عملي یووالي پر وړاندې خنډ دی. دوی د مصنوعي استعماري ملتونو تر منځ په همکارۍ کې شاملوي. پلورل شوي واکمنان د مسلمانانو د وېش مسوول دي او د همدې وېش د پیاوړي کولو لپاره کار کوي. همدې واکمنانو تر اوسه د طالبانو حکومت په رسمیت نه دی پېژندلی، په داسې حال کې چې د امریکا د اشغال پر مهال یې د امریکا ګوډاګۍ رژیم په ډېره بېړه په رسمیت وپېژندانده. هېڅ مسلمان واکمن پر افغانستان د امریکا ښکېلاک نه دی رد کړی او نه یې هم له بشري حقونو څخه د امریکا د سرغړونې پر وړاندې غږ پورته کړی دی، خو کله چې د طالبانو د حکومت خبره کېږي، همدا واکمنان ټول د امریکا خبره کوي. له طالبانو سره تر سپکو شرایطو لاندې د لږې مرستې ژمنه د رشوت په توګه کوي، تر څو پر طالبانو فشار راوړي چې نور امتیازات ورکړي. که همدا واکمنان یوازې پولې پرانېزي، نو مسلمه امت به په څو ورځو کې د خپلو مسلمانانو ټولې اړتیاوې پوره کړي. اوس د ډېورنډ استعماري کرښه پرېکړه کوي، چې څوک خواړه او اوبه تر لاسه کړي او څوک نه.

**اې د پاکستان وسله والو!** نور بس دی، افغانستان او پاکستان د مذهب، جغرافیې، تاریخ او کلتوري اړیکو له مخې یوه ټولنه ده. افغانستان یوه اسلامي خاوره ده او د قیامت په ورځ به له تاسو څخه زموږ د ماشومانو د لوږې او بې وزلۍ پوښتنه کېږي. د افغانستان د ملاتړ مسوولیت د نړیوالې ټولنې پر غاړه نه، بلکې د اسلامي امت پر غاړه دی. دا امریکا پلوه واکمنان له منځه یوسئ او د نبوت پر منهج د راشده خلافت په بیا تاسیس سره د ملت ډال بېرته جوړ کړئ. د افغانستان، منځنۍ اسیا او منځني ختیځ مسلمانان ستاسو هرکلي ته چمتو دي. ملت خپل ځای ناستي ته سترګې پر

لاره دی، چې وړي ماشومان يې ماړه شي، له کوندو سره مرسته وشي، مسلمان هېوادونه له کفارو څخه وژغوري او ټولې نړۍ ته د اسلام پيغام ورسوي. الله تعالی په قرآن کريم کې فرمايي:

{إِنَّ اللَّهَ يُدَافِعُ عَنِ الَّذِينَ آمَنُوا إِنَّ اللَّهَ لَا يُحِبُّ كُلَّ خَوَّانٍ كَفُورٍ}[حج: ۳۸]

***ژباړه:*** *بېشکه، الله تعالی له هغو کسانو څخه دفاع کوي چې ايمان يې راوړی دی. دا يقيني ده چې الله تعالی هېڅ يو خايين، د نعمت منکر نه خوښوي.*

**د حزب التحرير- ولايه پاکستان مطبوعاتي دفتر**

**۱۴۴۳ هـ.ق، د جمادي الاول ۱۴مه**

**۲۰۲۱م، د ډسمبر ۱۸مه**

**د صدور گڼه: ۲۸/ ۱۴۴۳**

**#Afghanistan**
**#أفغانستان**
**#Afganistan**